SHARIAT

شریعت

په اوونی کې دوه ځله خپرېږی

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

پنځم کال شپیتمه گڼه پرله پسې (۳۴۷) سه شنبه د۱۴۲۱هـ ق کال دجمادي الاول (۲۲)
د۱۳۷۹هـ ش کال د وږی دمیاشتی(۱) د ۲۰۰۰میلادي کال د اگست (۲۲)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي! ، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا (پرهېزگاري) ته. (سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بې حرمتي بگذارید.

په تخار کی :

د مخالفینو تر منځ جگړه ونښته

په دی جگړه کی قوماندان داود د مسعود په پلوی د قوماندان قطره افراد بی وسلی کوی

د باختر اطلاعاتی آژانس د باوری خبرځایونو له خولی خبر راکړ: د هغو سختو اختلافونو په دوام چی د مخالفینو د قوماندانانو تر منځ شته په دی وروستیو وختو کی د تخار ولایت په مربوطاتو کی د قوماندان داود او قوماندان قطره د وسله والو افرادو تر منځ سختی

نښتی وشوی د عینی شاهدانو په وینا دغو جگړو په دی وروستیو وختو کی سختوالی موندلی او په نتیجه کی یې د بیکیلو خوا و لس تنه افراد وژل شوی او ټپیان شویدی.

عینی شاهدان وایی مسعود په دغو نښتو کی د قوماندان داود ملاتړ کوی او دی ځکه چی د قوماندان قطره افراد بی وسلی او له سیمی بی وشړی.

د سیمی خلک هم د مخالفینو د قوماندانانو تر منځ د نښتو د دوام له امله زیانمن شوی او د سیمی زیاتو کسانو د استوگنی خپل کورونه پرېښی دی او خپل ځانونه د افغانستان د

٤ مخ

دپروان ولایت د دره پارسا :

د ابدال د کلی جامع جومات پرانستل شو

د پروان ولایت د سرخ پارسا ولسوالی د دره پارسا د ابدال د کلی جامع جومات پرانستل شو.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ: دغه جومات د پروان ولایت د سرخ پارسا ولسوالی د دره پارسا د ابدال د کلی د اوسیدونکو لخوا د دری سوه پنځوسو ملیونو افغانیو په لگښت جوړ شویدی دغه جومات په دی وروستیو وختو کی د سرخ پارسا د ولسوال محترم ملا محمد یاسین لخوا پرانستل شو چی په یوه وخت کی زر تنه لمونځ کوونکی ځایی او د هغه په جوړولو کی د اړتیا وړ تول ملحقات په پام کی نیول شویدی.

٤ مخ

د بهرنیو چارو وزارت د ویندوی په څرگندونو کي :

مونږ د نړی له هیڅ یوه هیواد سره د دښمنی نیت نه لرو

مونږ پخپل هیواد کی د سولی د ټینگښت په لټه کی یو

پداسی حال کی چی هیواد مو وچکالی ځپلی له نړیواله ټولنی څخه د انسانی مرستو هیله لرو

له امریکایی چارواکو نه دا غواړو چی د قضایاو په اړه له سلیم عقل نه کار واخلی

د اگست د میاشتی د ۲۲ می نیټی په اړوند چی د افغانستان په خاوره باندی د امریکا د متحده ایالاتو د کروز توغندیو د بریدونو له دویمی کالیزی سره سمون لری د

افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزارت د ویندوی څرگندونی.

د ۱۴۲۱ هجری قمری کال د جمادی الاول د میاشتی ۲۱مه نیټه دوه کاله مخکی د

سپینی ماڼی اداری د افغانستان په مسلمانو خلکو باندی د کروز توغندیو بریدونه وکړل د افغانستان خلکو د واشنگټن د اداری دغه حرکت د نړیوالو تورمونو په خلاف او د بشر د حقوقو په

بشپړه توگه تر پښو لاندی کول وبلل او دا کار یې د هیواد په گوټ گوټ کی وغانده په افغانستان باندی د کروز توغندیو بریدونه پداسی وخت کی وشول چی د کلنټن اداری په

پرله پسې توگه په افغانستان کی د بشر د حقوقو د تر پښو لاندی کیدو خبری کولی چی د نړیوالو ذهنونه گډوډ کړی خو د سپینی ماڼی د واکمنانو رسوایی تشت له بامه ولوید په دی خاطر

٤ مخ

محترم قاضی القضات مولوی نورمحمد «ثاقب» :

قاضیان باید خپل قضایی حیثیت وساتی

کابل - باختر :

د ستری محکمی عالی شورا پرون د افغانستان د اسلامی امارت د قاضی

القضات او د ستری محکمی د رئیس محترم مولوی نور محمد ثاقب په مشری د ستری محکمی په مقر کی غونډه وکړه

دغه شورا د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په لوستلو سره پیل شوه او وروسته محترم قاضی

٤ مخ

په ننگرهار کی د بریښنا د بند د بیا جوړونی کار پیل شو

د ننگرهار ولایت د درونټی د بریښنا د بند د پنځمی دروازی د ترمیمولو کار پرون پیل شو.

د ننگرهار ولایت د اوبو او بریښنا رئیس محترم مولوی محمد فاروق عمری په سرکه کی وویل د درونټی د بریښنا بند

پنځه دروازی لری چی څلور دروازی یی پخوا ترمیم شوی او د پنځمی دروازی د ترمیمولو کار پرون پیل شو

٤ مخ

تلاشها برای نجات سرنشینان تحت البحری روسیه به ناکامی انجامید

فعالیت برای نجات سرنشینان تحت البحری اتمی روسیه که در آبهای دریای بارنس غرق شده است ادامه داشته ولی از پیشرفت ها در زمینه خبری داده نشده است.

بگزارش منابع خبری بین المللی غواصان با آب بازان تحت البحری ناروی موفق شده اند تا راه خروجی اضطراری تحت البحری غرق شده روسی موسوم به کورسک را در عقب این تحت البحری پیدا نمایند ولی راه دهلیزیکه به دیگر قسمت های تحت البحری منتهی میگردد تا هنوز پیدا نشده است.

ص ٤

در جلال آباد :

مقداری از ادویه جات تاریخ گذشته حریق گردید

یک مقدار ادویه جات تاریخ گذشته و بدون کیفیت دیروز در شهر جلال آباد حریق و از بین برده شد.

مقدار هفتادو دو هزار بوتل ویتامین که در هفتصد و هشتاد شربت کلورم فنیکول،

کلسیم وفاسفیت و مولتی کارتن جابجا گردیده بود.

٤ مخ

په منظور تخطی از قوانین حفظ الصحه در کابل :

۲۹ باب خبازی مسدود گردید

کابل - باختر :

۲۹ باب خبازی در نقاط مختلف شهر کابل اخیراً از سوی

هیأت موظف شاروالی کابل برای مدت معین مسدود گردید.

به منظور رفع شکایات شهروندان کابل که در مورد طبخ و عرضه نان خبازان داشتند اخیراً هیأت از سوی ریاست

ص ٤

اداره خود مختار فلسطین :

مصالحه با صهیونستها امکان پذیر نیست

اداره خود مختار فلسطینی ها هیچگونه مصالحه یی با رژیم

صهیونیستي در باره موضوع بیت المقدس شرقي بعمل نخواهد

ص ٤

د ممیزو اووچو میوو د صادراتو د پراختیا موسسه :

د هیواد د ټولو سوداگرو لپاره یوه خدمتی ټولنه ده

د ممیزو د صادراتو د پراختیا موسسی د ۱۳۵۶ کال د

سلواغی د میاشتی په پنځلسمه نیټه د وخت د جمهوری ریاست د

مقام له لوری د یوه ځانگړی فرمان په صادریدو سره رسماً په

٤ مخ

په کینیا کی :

د اورگاډی د چپه کیدو په پېښه کی ۱۷ تنه ووژل شول

د کینیا پایتخت د نایروبی ښار ته نږدی د اورگاډی له کتاره د یوه واگون د وتلو له امله لږ تر لږه ۱۷ تنه وژل شوی او دوه دیرش تنه نورټپیان شویدی.

٤ مخ

نمایشگاه پیشرفتهای اقتصادي افغانستان :

در ۳۳ کشور جهان حائز مقام اول گردیده است

این نمایشگاه با بدست آوردن مدال طلا و کپ افتخاري نیز نایل گردیده است

به افتخار ۸۱ مین سالگرد استرداد استقلال افغانستان اخیراً

نمایشگاه صنایع دستي داخلي بطور موقت در کابل ننداړتون تدویر یافت.

در این نمایشگاه اقلام مختلف صنایع دستي چون قالین و گلیم دست

بافت پارچه هاي دست دوزي شده به شمول البسه باب گوناگون

٤

محترم مولوي رحیم الله «رحیمي» سرپرست ریاست عمومي احیا و انکشاف دهات در مصاحبه با شریعت :

کار شبکه آبرساني کوته عشرو ۹۸ فیصد تکمیل گردیده است

حفر خود سرانه چاه هاي عمیق مشکلات خشکسالي را افزایش مي بخشد

شریعت : ریاست عمومي احیا و انکشاف دهات که به کمك

مالي و تخنیکي اداره یونسف ملل متحد در افغانستان فعالیت

دارد طي هفته گذشته در بخش تامین نمودن شبکه هاي

ص ۲

پهامریکا کي :

لگیدلی اور ژبغړاند شو

د امریکا د متحده ایالاتو د لویدیځو او جنوبی سیمو په ځنگلونو کی لگیدلی اور پراخ شویدی او په دغو ناحیو کی د اور لگیدنی ټولی سل سیمی یا ځایونه را منځته شویدی.

د نړیوالو خبری منابعو د خبر له مخی تراوسه پوری د ځنگلونو او بوټو څلور سوه زره هکتاره ځمکه سوزیدلی ده. او د اور وژنی څه د پاسه ۲۵ زره تنه کار کوونکی د دغه اور پر خلاف په مبارزه بوخت دی او د اردو او د ملی گارد عسکر هم له هغوی سره مرسته کوی.

تر اوسه پوری د کانادا، مکسیکو، استرالیا، او نوی زیلاند هیوادونو مرستندوی یوځونه او د اور وژنی ماهران د امریکا متحده ایالاتو ته استولی دی.

د کابل ننداړتون ښکلی ودانی چی د تنظیمی جگړو په مهال په خرابه بدله شوی او اوس بیرته د اسلامی امارت په هڅو ترمیم او د گټی اخیستنی وړ گرځیدلی ده عکس: یوسف

سرمقاله

دلوی خدای (ج) په نامه

د هیواد د ملی هویت ساتنه د ټولو افغانانو یو مهم مسؤلیت دی

لکه چی هر ملت او هر هیواد ځانگړی تاریخ، دود دستور، فرهنگ او ثقافت لری، مونږ افغانان هم دیر لرغونی تاریخ، ملی مشخصات او وياړمنی کارنامی لرو، او ښکاره ده چی یو هیواد او ټولنه هغه وخت خپل نظم او وحدت ساتلای شی چی څه مشترک وجوهات

۲ مخ

شریعت

دتأسیس کال	: ۱۳۷٤ هـ ش
	: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر	: عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال	: غلام محمد فاروق
دیوې ګڼې بیه	: په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداری
پست بکس	: (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :۶۲۸۵۹
جاري حساب	: ٤۰۳۸۵/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ	: امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

ولري، ځانته دیني انګیرنې، ګډ کلتور او یو شریک تاریخ ولري او د همدغو شریکو وجوهاتو ساتنه بیا تل د هغوی نظم، یووالي او پیوستون نور هم ټینګولای شي خو بر عکس څومره چې یوه ټولنه خپل تاریخي مشترکات له یاده وباسي، په هماغه اندازه به د ګډوډي او اختلاف سره مخامخ کیږي او ښایي د هغې ټولنې راتلونکې ډېره خطرناکه وي، له نیکه مرغه د افغانستان اسلامي امارت د افغاني ټولنې د ځانګړې ملي هویت په ساتنه همیشه ټینګار کړی او د هیواد د ځمکنۍ بشپړتیا او خپل سوچه اسلامي او افغاني کلتور د ساتنې او ژغورنې لپاره یې ډېرې هلې ځلې کړې او قرباني یې ورکړې دي د بیلګې په ډول همدا اوس له انګریزانو څخه د هیواد د خپلواکۍ ګټلو ورځ چې د بریتانوي امپراتورۍ د سقوط او د افغانانو د وياړمنې سوبې د یادښت ورځ ده، په ښه شان او شوکت سره ولمانځل شوه، په داسې حال کې چې آن د داود خان د واکدارۍ له پیله دغې ورځې ته چندان اهمیت نه وو ورکړل شوی، او د تېرو اووه ویشتو کلو په موده کې چا د چنګاښ ۲٦ مه چا د غویي اوومه او چا د جدي شپږمه نیټه لمانځله خو دغه چې یوه تاریخي او ملي ورځ وه بې اهمیته ګڼل شوې وه.

همدارنګه په دې لړ کې د ملي موزیم پرانستل او د تاریخي لرغونو اثارو په ساتنه کې هڅه هاند یو بل لوی مسؤلیت دی چې د اسلامي امارت چارواکو ښه پاملرنه ورته کړې او په دې برسیره د تاریخي آبداتو او ملي ګالرۍ تنظیم او پالنه چې زمونږ د ملي هویت او کلتور ډېره ښه پیژند ګلوي کوي، هم ډېر لوی کار دی چې اسلامي امارت د خپل وس او وسایلو سره سم هلې ځلې پکې کړې دي له بلې خوا د هیواد د لاسي صنایعو نندارتون پرانستل چې له اقتصادي اهمیت سره سره زمونږ د لرغوني فرهنګ یوه برخه هم څرګندوي، یو بل مهم ګام دی چې د استقلال د خوشالیو په مراسمو کې واخیستل شو او عامو کتونکویې ننداره وکړه، په دې کې هغه لاسي صنایع هم و چې څو میاشتې مخکې په دوبۍ کې د ۳۳ هیوادو په سیالۍ کې لومړۍ درجه ورکړل شوې وه دا او په دې ډول نور ډېر مهم کارونه دي چې اسلامي امارت د هیواد په دې حساس پړاو کې په ښه ډول سرته رسولي او په کار ده چې د ټولو افغانانو له خوایي ملاتړ وشي او هر څوک چې هرې ډلې پورې تړلی وي په دې هکله له انصافه کار واخلي او د هیواد د ملي هویت او لرغوني تاریخ په ساتنه کې زمونږ دغو هلو ځلو ته د قدر په سترګه وګوري.

دا هم باید ووایو چې ټول افغان ولس ښایي په دې هکله خپل مسؤلیت وپیژني او د خپل ملي تاریخ په ساتنه کې د غفلت او بې پروایي نه کار وانخلي اسلامي امارت لکه چې د اولې ورځې نه یې دې خبرې ته پاملرنه کړې، تل به دا کوشش کوي چې د هیواد ملي او تاریخي وياړونه وساتي او هغه آثار را ټول کړي چې د تېرو بې مفهومه جګړو په ترځ کې چور او پلورل شوي دي.

از آزادي تا استقلال

وحید «مژده»

هشتادو یکمین سالروز آزادي از استعمار انگلستان را جشن گرفتیم. هشتادو یك سال قبل شاه امان الله با این جملات آزادي افغانستان را به جهانیان اعلام داشت:

«... من خودم ومملکت خودم را از لحاظ داخلي و خارجي کاملاً آزاد و مستقل اعلام کرده ام و بعد از این مملکت من مانند سایر دول و قدرتهاي جهان آزاد است.

به هیچ نیروي خارجي به اندازهٔ یك سر مو اجازه داده نخواهد شد که در امور داخلي و خارجي افغانستان مداخله کند و اگر کسي به چنین امري اقدام نماید گردنش را با این شمشیر خواهم زد»

امان الله خان درین بیانیه تاریخي (آزادي) و (استقلال) را با مفهوم مترادف و همسان بکار گرفت اشتباهي که بسیاري با اظهارات غیر دقیق مرتکب آن مي شوند در حالیکه در عمل آزادي بدون استقلال مفهومي ندارد. آزادي نا مکمل آزادي نیست بلکه ازادي با استقلال کامل مي شود.

درست است که هشت دهه قبل روابط بین المللي به تنوع و پیچیدگي امروز نبود ولي اندك دقت و تأمل در سیر حرکت استعمار بسوي مشرق زمین از قرن هفدهم میلادي بروشني واضح میشود که اگر قربانیان استعمار قادر به درك مرز میان استقلال و آزادي نبودند و پامال شدن استقلال خود را مغایر با آزادي نمي دیدند. استعمارگران به این نکته بدقت متوجه بودند.

استعمارگران اروپایي در ابتدا از طریق تجارت قدم به سرزمین هند نهادند. انگلیس در سال ۱۶۰۰ م با تأسیس کمپني هند شرقي به رقابت با نفوذ کشور هاي پرتگال، هالیند و فرانسه پرداخته و در آغاز کار فقط به رقابت تجارتي اشتغال داشت ولي به تدریج فرصت هاي را بدست اورد تا نه تنها رقباي اروپایي را از میدان خارج کرد و خود یکه تاز عرصه تجارت در هند شد بلکه با تأسیس نیروي نظامي به بهانه حفاظت از اموال و دارایي هاي کمپني هند شرقي سرانجام موفق به تسخیر سراسر هند گردید.

طوریکه مي بینیم بریتانیاي کبیر سلب آزادي هند را از سلب استقلال اقتصادي این کشور آغاز کرد وقتي هندوستان از نظر اقتصادي وابسته به انگلیس گردید و استقلال اقتصادي خویش را از دست داد نوبت به تسلط نظامي و سلطه کامل استعمار در تمام بخش هاي زندگي مردم هند فرا رسید.

افغانها وقتي در سال ۱۹۱۹ میلادي به تسلط انگلیس در کشور شان پایان دادند، سابقه چهل سال استبداد شدید داخلي تحت زمامداري عبدالرحمن خان و حبیب الله خان را پشت سر نهاده بودند. در کشور اثري از یك زیربناي قابل اتکاي اقتصادي وجود نداشت. تجارت کشور در دست خارجیان بود که از طریق هند بریتانوي صورت مي گرفت. آزادي نتوانست بخشي از قلمرو از دست رفته را که میتوانست این کشور را به بحر پیوست نماید به افغانستان باز گرداند بنا، افغانستان محتاج راه ترانزیتي که از قلمرو هند بریتانوي مي گذشت باقي ماند.

ما باید پس از رسیدن به ازادي و دادن قرباني بسوي استقلال گام بر مي داشتیم که مکمل آزادي ما بود اما رژیم هاي پس از آزادي که بر افغانستان حاکم شدند کمتر به اهمیت این نکته متوجه بودند اینکه ما مي گوئیم آرمان مقدس شهدا و تلاش هاي مجاهدین ما پس از پیروزي تحقق نیافت ناشي از بي توجهي و کم ارج نهادن به همین نکته مهم بود.

گاندي در هندوستان براي مبارزه با نفوذ انگلیس از مردم هند خواست تا خرید اموال انگلیسي را تحریم نمایند و خود چرخ نخ ریسي بدست گرفت تا لباس خود را خود تهیه کند رهبران هندي دانستند که استعمار آزادي آنانرا با سلب استقلال اقتصادي آنان و ایجاد وابستگي از آنان گرفت و به همین علت تلاش در جهت آزادي کامل را از حرکت بسوي استقلال آغاز کردند و این علاقه به استقلال چنان در عمق وجدان ملت نفوذ کرد که تا امروز نیز اموال خارجي در هند در برابر تولیدات مشابه داخلي کمتر مجال رقابت یافته است.

اما در افغانستان پس از آزادي بجاي اینکه از نفرت علیه استعمار در جهت استقلال اقتصادي و ارج نهادن به ارزش هاي والاي دیني و ملي که عامل اصلي در هم شکستن سلطه، استعمار بود استفاده شود بر عکس ترویج فرهنگ غربي از طریق تقلید آغاز شد و زمینه را براي پخش این مفکوره در میان ملت مساعد ساخت که چگونه میتوان انگلیس را دشمن دانست ولي فرهنگ انگلیسي باید تقلید و تقدیر گردد؟ به این ترتیب در نتیجه یك اشتباه جبران نا پذیر زمینه براي برپایي یك شورش خانمان بر انداز میسر گردید. نه تنها مجال حرکت بسوي استقلال فراهم نیامد بلکه آنچه که از گذشته بر جا مانده بود نیز بر باد فنا رفت و بار دیگر تسلط غیر مستقیم استعمار و استبداد داخلي بر کشور حاکم شد.

چرا افغانها توفیق رفتن از آزادي بسوي استقلال اقتصادي را نیافتند؟ درین رابطه ارتقاي سطح فکري و فرهنگي جامعه اهمیت اساسي و قاطع دارد در حالیکه در افغانستان بعلت چهل سال سلطه استبداد عبدالرحمن و حبیب الله مجال یك حرکت قدرتمند فکري و فرهنگي فراهم نیامد. درین دورهٔ سیاه از بردگي فکري که استعمار خواهان آن بود هر سردي را که به تني مي ارزید از تن جدا کردند.

(جان ستوارت سیل) فیلسوف انگلیسي مي گوید: «راست است که در محیط هاي بردگي فکري گاهي متفکران بزرگ برخاسته اند و هنوز بر مي خیزند اما در چنین محیط خفقان آوري ملت بالغ و نمو کرده یي هرگز بوجود نخواهد آمد. زماني ملتي از نظر فکري نمو کرده که قید بردگي فکري موقتاً از گردن آن برداشته شده است»

بنا بر این استفاده از دست آورد هاي آزادي به توان فکري و فرهنگي یك جامعه رابطه مستقیم دارد چه بسیار ملت هایي که به قیمت خونهاي فراوان پشت استعمار را در هم شکسته آزادي خود را حاصل کرده اند ولي از مزیت هاي آزادي بهره یي نبرده اند.

تاریخ سه جنگ افغانها با انگلیس ها که سر انجام به ازادي این سرزمین منجر شد نشان داد که روح مسلط و انگیزه اصلي قیام ملت از عقاید اسلامي مردم سرچشمه مي گرفت و اسلام بود که به زندگان وعدهٔ غازي شدن و به کشتگان وعدهٔ زندگي جاویدان میداد ولي فرداي پیروزي بر دشمن بار دیگر قدرت بدست کساني مي رسید که به ارزش هاي که جهاد را روح و روان بخشید بي باور بودند.

صاحب این قلم در سالهاي جهاد و حضور نیرو هاي روسي در افغانستان در محفلي این سوال را از یکي از رهبران جهاد نمودم که چرا در افغانستان بار ها ثمرهٔ جهاد ملت بپاي دشمنان ملت ریخته شده و ملت از مواهب این نعمت بي بهره مانده است. آیا در گذشته نیز هدف از جهاد ملت علیه انگلیس ها تاسیس حکومتي بر بنیاد اسلام نبود؟

رهبر مذکور در جواب گفت که علت به ثمر نرسیدن آن مجاهدت ها این بود که در آن زمان در افغانستان یك حزب منظم و قوي وجود نداشت تا ملت را رهبري نماید. ملت پراگنده بود و دشمن از پراگندگي ملت بهره مي برد اما امروز چنین حزبي در افغانستان وجود دارد.

اکنون پس از درگیري هایي که بدنبال سرنگوني رژیم نجیب بوجود آمد بار دیگر این حقیقت به اثبات رسید که سطح دانش و فرهنگ یك ملت قاطع ترین نقش را در حرکت این ملت بسوي استقلال و آزادي دارد تنظیم شدن در گروه ها و احزاب متعدد گره گشاي این مشکل نیست بر عکس فاجعه آفرین است.

اکنون که هشتاد و یکمین سالروز آزادي کشور از استعمار انگلیس را جشن گرفتیم بر ماست تا به این حقیقت مهم توجه نمایم که بهره گیري از مزایاي آزادي بدون دسترسي به استقلال به مفهوم واقعي آن ممکن نیست. گام برداشتن بسوي استقلال بدون موجودیت کادر هاي ورزیده فني و اندیشه هاي متعهدي که دلسوزانه ملت را از آزادي بسوي استقلال رهنمون گردیده و به این ترتیب مرز "هاي ازادي" را گسترش دهند، ممکن نیست.

اگر ما به این باور باشیم که میتوان کشور، را با کمك مادي و فني و کادر هاي تخنیکي خارجي باز سازي نمود انتظاري بیهوده است. زیرا استقلال با همین وابستگي ها تضعیف گردیده و سر انجام آزادي یك ملت بزیر سوال مي رود.

پس بیائید به این نکته نهایت مهم بدقت متوجه گردیم و تحکیم بنیاد هاي آزادي را که حاصل خونها و تلاش هاي مجاهدین مؤمن و مخلص راه اسلام در سنگر هاي گرم جهاد است با تلاش در جهت دستیابي به استقلال اقتصادي، فرهنگي... تحکیم بخشیم و به این باور باشیم تا زماني که ملتي بخاطر نان محتاج دیگران است مستقل نیست. استقلال مکمل آزادیست و باید در راه رسیدن به این هدف جهاد پیگر و مستمر نمائیم.

> اکنون که هشتاد و یکمین سالروز ازادي کشور از استعمار انگلیس را جشن گرفتیم بر ماست تا به این حقیقت مهم توجه نمایم که بهره گیري از مزایاي آزادي بدون دسترسي به استقلال به مفهوم واقعي آن ممکن نیست. گام برداشتن بسوي استقلال بدون موجودیت کادر هاي ورزیده فني و اندیشه هاي متعهدي که دلسوزانه ملت را از آزادي بسوي استقلال رهنمون گردیده و به این ترتیب مرز هاي آزادي را گسترش دهند، ممکن نیست.

کار شبکه آبرساني کوته عشرو...

آبیاري در سطح زون مرکز به یك سلسله افتخارات بارز نایل گشته است.

خبرنگار ما در پرتو آگاهي هر چه بیشترموضوع گفت و شنود اجمالي را با محترم مولوي رحیم الله «رحیمي» سرپرست آنریاست انجام داده است که توجه شما عزیز دوستان را به خوانش آن فرا میخوانیم:

اخیراً بخش آبرساني ریاست احیا و انکشاف دهات در سطح زون مرکز (لوگر، غزني، وردك، کابل) موفق گردیده که ٤۹ حلقه چاه برمه یي نیمه عمیق را حفر و مورد استفاده همگاني قرار بدهد که با حفر چاه هاي مزبور حدود ۱٤۷۰۰ تن اهالي مسکوني آنجا از نعمت اب آشامیدني صحي مستفید شده اند. این مطلب را محترم رحیمي در آغاز صحبت خویش اظهار داشته افزود: هکذا کار احداث شبکه آبرساني کوته عشرو در میدان وردگ بطول ٤.٥ کیلو متر تلدواني ۹۸ فیصد تکمیل گردیده وقرار است هفته آینده مورد استفاده اهالي قرار بگیرد که با اتمام این شبکه حدود ۱٦۰۰ تن اهالي مسکوني میدان - وردگ از قلت آب آشامیدني صحي در آنجا نجات مي یابند.

نامبرده علاوه نمود: به منظورحل مشکلات آب آشامیدني صحي ۲٤۰۰ تن از اهالي قریه زمه و موسهي ولایت کابل، بخش ابرساني این ریاست کار تمدید آب ۳ چشمه طبیعي را بطول ۵۷۰۰ متر اغاز نموده است که با انشاء الله در روز هاي بسیار نزدیك مورد بهره برداري قرار میگیرد.

وي در قسمت حفر چاه هاي سطحي - عادي) بي کیفیت از جانب موسسات غیر حکومتي در کشور انگشت انتقاد گذاشته اشاره نمود: اکثراً دیده شده که این موسسات در دهات کشور هزار ها حلقه چاه سطحي را احداث و بالاي هر کدام پمپ هاي دستي نصب نموده اند که بیشتر از ۹۰ فیصد این چاه ها هم اکنون نسبت خشکسالي حاکم در کشور خشك و غیر قابل استفاده مي باشند: آنها مکلفیت دارند تا بخاطر حل مشکلات مردم چاه هاي متذکره را ذریعه ماشین هاي برمه یي دو باره احیا و با نصب مجدد پمپ هاي دستي با کیفیت شبکه هاي آبرساني خویش را عیار سازند.

وي این را هم اضافه داشت که درین اواخر یکتعداد از هموطنان باغدار و زارع ما به منظور ابیاري ساحات مزروعه خویش در مناطق خشکسالي با استفاده از امکانات پولي خویش اکیداً بدون تفاهم و سروي تخنیکي وزارت خانه هاي معادن و صنایع و اب و برق به حفر چاه هاي خود سرانه عمیق مبادرت میورزند که حفر خود سرانه همچو چاه ها مشکلات خشکسالي را در ساحه افزایش بخشیده سبب خشك شدن چاه هاي عادي منازل مسکوني و کاریز هاي همجوار در منطقه میگردد: بناً مسوولین مربوط باید در زمینه توجه جدي بخرج دهند تا باشد بعد از این از خشك شدن حتمي چاه هاي عادي و کاریز ها در منطقه جلوگیري به عمل آید. محترم «رحیمي» برنامه هاي آینده بخش ابرساني آنریاست را اینگونه توضیح داد: بخش آبرساني اینریاست به کمك مالي اداره یونسف در نظر دارد تا عنقریب کار احیا و پاك کاري ۵۰ رشته کاریز محلي را در کابل و ولایات همجوار آن آغاز نماید.

مهربان

۶ شرح منظومهء عروج و نزول اسلام

پوهیالی
لیلما "یما"

دیدگاه هاي اندیشه ورزان غرب در بارهء تاریخ علم، معارف، تمدن و فرهنگ اسلامي

دانشگاههاي اسلامي

بند بیست و سوم :

نور چشم من به شهر قاهره افگن نظر
بر اساس علم یعني جامع از هر نگر
پس به یاد سید افغان کن آنجا دیده تر
بر دگر دارالعلومش نیز کن سیرو گذر
پس به بغداد و دگرجاها بین ما به قرطبه
تا که دریابي ز علم آباد حدو مرتبه

شرح : شاعر خطاب به خواننده شعر خود نموده میگوید : اي نور چشم من یکبار به شهر قاهره نظر کن و اصل و اساس علم را در جامع ازهر مصر از نظر بگذران و وقتي از جامع ازهر ذکر نمودي لحظتي به یاد سید جمال الدین افغان دیده پر اشك ساز، همچنان بر سایر دارالعلوم هاي مصر سیر و گذر کن و سپس از آن براي اینکه با دیگر علم آباد ها اشنا شوي به بغداد و قرطبه نیز متوجه شو که بزرگترین دانشگاهها را در خود دارند .

جامع ازهر مصر یکي از مراکز مهم و قدیمترین مرکز علم و دانش اسلامي به شمار میرود که در زمان فاطمي هاي مصر تأسیس شده است اما متاسفانه درعصر رهبر تحریك اسلامي شرق سید جمال الدین افغان عوامل استعمار و عقبگراي در این جامع نفوذ کرده بودند و نمیگذاشتند نیرو هاي تحریك اسلامي کار و فعالیت نمایند و مسلمانان را به حرکت در آورند. به همین علت وقتي سید افغان به جامع ازهر رفته میخواست با استادان آن جامع (پوهنتون) طرح هاي جدید و تازه تحریك مسلمانها را در میان بگذارد و از آن طریق مسلمانان جهان را بر علیه استعمار به حرکت آورد از طرف جامع ازهر برایش محدودیت ایجاد میشود و حتي از مصر اخراج میگردد و وقتي مرحوم خلیل میگوید که بیاد سید افغان دیده تر کنید منظور نظرش آن است که چگونه سید افغان که دلش براي اسلام و مسلمانان میسوخت در جامع ازهر که بزرگترین دانشگاه به شمار میرود زمینه فعالیت نداشت .

قابل تذکر است شیوه تدریس در مدارس و پوهنتونها و دارالعلومهاي اسلامي قسمي بوده که علاوه بر علوم نقلي (عقاید، تفیر، حدیث و فقه) علوم عقلي (فلسفي، منطق، ریاضیات، علوم طبیعي مانند فزیك، کیمیا، بیولوژي، زمین شناسي و علوم ادبي) نیز تدریس میشد و در مورد تحقیق صورت میگرفت.

قابل تذکر است که پوهنتونها و دارالعلوم هاي اسلامي از مراکز مهم آموزشي و تحقیقي که در یکي از مقاطع زماني به نام نظامیه ها نیز یاد میشدند به شمار میرفت که بزرگترین استادان مجرب در آنجا ها به تدریس میپرداختند و از سراسر کشور هاي اسلامي شاگردان براي فراگیري علوم اسلامي میشتافتند.

علوم ادبي

بند بیست و چهارم :

آنچه در علم پدیدار است از شعر و ادب
عالمي داند که اینها کرده نشأت از عرب
اندلس و پروانس و اهل یورپ و روم و حلب
کرده اند آن را از ما تحصیل و تعلیم وطلب
«یار دو» و «هوبه» دراین ادعا انباز ماست
راستي حسن کلام از جمله، اعجاز ماست

شرح : همه به این نکته معترف اند که علوم ادبي اعم از تاریخ ادبیات ، نقد، متون ادبي، عروض، قافیه، دستور زبان، فصاحت، بلاغت، فنون ادبي (بدیع و بیان) و غیره از عرب زبانان به صورت علمي آن نشأت کرده است و بعد، از آنجا به کشور هاي دیگر از جمله اسپانیا و کشور هاي اروپایي پخش و نشر شده است، چنانچه مشیو یاردو وهوبه که از جمله، علماي معروف اروپایي به شمار میروند این مسأله را تصدیق نموده اند .گر چه فعالیتهاي بزرگان عرصه ادب کشور مان در عصر حاضر در بخشهاي مختلف چشمگیر و در خور ستایش است ولي اگر از این شخصیتهاي بزرگ و فعالیتهاي برجسته آنها بگذریم به طور کل روال عمومي جریانهاي فرهنگي طوري بوده که متاسفانه در کشور ما علوم ادبي نه تنها مانند سایر علوم به زبان ساده بیان نشده است تا از آن همه مردم استفاده کنند، بلکه تحقیق بیشتر نیز بالاي آن صورت نگرفته است تا چیز هاي تازه و نو از آن دستیاب گردد و صرف به کار گذشته گان اکتفا شده است درحالیکه جوامع غربي پس از مطالعه دقیق و عمیق کتب علماي ادبي شرق است که به دریافت سبك شناسي، ادبیات مقایسي و نقد ادبي و دیگر بخش هاي علوم ادبي نایل مي آیند و ما شرقیان بي خبر از فرهنگ و تمدن اسلامي تصور میکنیم که علوم اخیرالذکر از ساخته هاي غربیان است. و همین اکنون هم اگر آثار علماي ادبي شرق (کشور هاي اسلامي) با دقت مطالعه شود نکته هاي تازه و جدیدي را میتوان از آن دریافت نمود و به زبان ساده بیان کرد تا همه از آن مستفید شوند.

قابل یاد آوریست که علوم ادبي شامل دو بخش میگردد ، یکي بخش افرینشي دو دیگر بخش شناخت ادبي، بخش افرینشي میخواهد آثار تازه یي را در ژانر هاي مختلف ادبي چون: شعر، داستان، طنز ، نمایشنامه و غیره پدید بیاورد و اما شناخت ادبي آثار ادبي موجود را مطالعه نموده و آن را به دیگران میشناساند.

ریاضیات و علوم طبیعي

بند بیست و پنجم :

در ریاضي کس بما اندر جهان همتا نبود
علم هیئت را به جز ما کس خبر اصلاً نبود
واقف جغرافیا خود هیچکس چون ما نبود
شیمي و فزیك را کس غیر ما دانا نبود
(ابن موسي) و (الغ بیگ) و (سلیمان) داشتیم
(الحسن)، (ادریس) و هم (ابن حیان) داشتیم

شرح : شاعر در این بیت به کشفیات و تحقیقات و تألیفات مسلمانان در سایر عرصه هاي علوم اشاره نموده میگوید که کسي در جهان همتا و مانند ما مسلمانها در عرصه هاي کیمیا ، فزکي، ریاضي، جغرافیاي فزیکي و نجوم نیست زیرا ما علماي بزرگي مانند ابن موسي، الغ بیگ، سلیمان، الحسن،ادریسي و ابن حیان واشیم که از هر کدام آنها آثار با ارزشي بجا مانده است چنانچه محمد بن موسي مؤلف کتابي است در جبر و مقابله که به امر مامون الرشید عباسي در قرن نهم میلادي نوشته است. الغ بیگ نواسه تیمور بود که خدمات شایان در ترقي علم نجوم انجام داد و سلیمان عربي کسي است که کتاب مفصلي در باب علم جغرافیه تألیف نموده است و ادریسي عالم مشهور اندلسي است که کتاب در باره جغرافیاي فزیکي نوشته است و الحسن بن هشیم تالیفاتي دارد در باره فزیك و ابو موسي جابر بن حیان مشهور به ابو موسي اشهري عالم شهیر است در عرصه کیمیا. که آثار و نوشته هاي همه، آنها به زبان انگلیسي ترجمه شده و اروپاییان در تدوین علوم مدرن امروزي از آن سود فراوان برده اند.

کتب و آثار علمي که از گذشته گان براي ما باقیمانده نمایتگر آنست که اسلام به علوم طبیعي و ریاضیات توجه خاصي داشته که چنین آثار با ارزش پدید آمده است اما متاسفانه در دوره هاي اخیر در کشور ما به صورت شاید و باید در این عرصه توجه صورت نگرفته است و تحقیق تازه یي در مورد به عمل نیامده است و اگر تدریس هم شده است صرف به تعریفات و بیان بعضي نکته هاي ساده اکتفا شده است آنهم از طریق ترجمه، آثاري که از طرف غرب به ما رسیده است و اگر احیاناً تحقیقي و یا تألیف هم در این باره صورت گرفته باشد به عنوان اثر معتبر شناخته نمیشود .

این وضعیت در جامعه ما براي کساني که با فرهنگ و تمدن معاصر غرب آشنا هستند نوعي از خود بیگانه گي را پدید آورده است که همه چیز خارجي را ارج بگذارند و معتبر بشمارند و به کاري که اگر در داخل کشور صورت گرفته باشد به دیده کم بنگرند به همین علت است که به آثار علما و دانشمندان داخل کشور توجه به عمل نمي آید.

ادامه دارد

د اصحابو د ژوند پلوشي

۱۵

لیکوال : دکتور عبدالرحمن رافت باشا
ژباړن : بشار

ثمامه د رسول الله «ص» د مسجد څخه ووت. او د مدینې په شا او خوا کې د خرماو یوې باغچې ته چې بقیع ته نژدې وه ولاړ ، هلته یې خپله اوښه چوکړه او د هغه ځای په اوبو کې یې ولامبل. او خپل ځان یې ښه پاک کړ او بیا مسجد ته راستون شو څنګه چې مسجد ته ورسید د مسلمانانو په ډله کې ودرید او وې ویل : اشهد ان لا اله الا الله و ...

بیا رسول الله «ص» ته ورو غی او ویې ویل : ای محمده! په خدای سوگند، ستا مخ له ټولو مخونو څخه را ته ډیر بد ښکاریده ولې اوس ستا مخ له ټولو مخونو څخه را ته ښه او گران ایسیږي. په خدای سوگند ستا دین له ټولو ادیانو څخه راته ډیر بد ښکاریده ولې اوس ستا دین له ټولو ادیانو څخه راته ښه او گران ایسیږي. په خداي سوگند ستا هیواد له ټولو هیوادونو څخه راته ډیر بد ښکاریده ولي اوس ستا هیواد له ټولو هیوادونو څخه راته ښه او گران ایسي بیا یې دا هم وویل : ما ستا جیښې ملگرې وژلې دي نو ته پر ما څه لازم گڼې ؟ حضرت پیغمبر «ص» وویل : په تا څه ملامتیا نشته ، ای ثمامه ځکه اسلام ټول پخوانی گناهونه له منځه وړي. بیا یې ورته د ښو زیري ورکړ چې خدای ورته هغه د اسلام په منلو سره ور په برخه کړي دي. البته په دې زیري سره د ثمامه د مخ غونجې اواري شوې او ویې ویل : په خدای سوگند ، د مشرکانو څخه په ستا د ملگرو په نسبت زیات کسات واخلم، او خپل ځان، خپله توره، او خپل ملگري به ستا او ستا د دین د مرستې لپاره وگرځوم.

بیا یې وویل : ای د خدای رسوله! ستا سوررو ونیولم، او زه د عمرې نیت لرم نو ته څه مناسب گڼې چې هماغسې وکړم؟

حضرت پیغمبر «ص» ورته وویل : د خپلې عمرې د ادا کولو لپاره ورشه مگر د خدای او د هغه د پیغمبر د شریعت سره یې برابره وکړه . بیا یې ورته د حج مناسک او احکام وښودل. ثمامه د خپل مقصد لاره ونیوله ، تر دې چې مکې ته ورننوت، او په لوړ آواز یې وویل :

لبیک اللهم لبیک لبیک لا ...

قریشو د تلبیې آواز واورید، له قهر او ویرې پورته شول، توري یې له تیکو څخه وویستلې او د آواز په لوري وخوځیدل څو هغه ځوک چې د دوی کورونو ته راغلی دی کلک ونیسي.

کله چې خلک ثمامه ته مخامخ شول نو هغه په تلبیه سره خپل اواز پورته کړ او هغو ته یې په ډیر غرور وکتل، په دغه وخت کې د قریشو یو ځلمي وغوښت چې هغه په غشي سره ووژنې مگر خلکو د هغه لاس ونه ونیول، او ورته یې وویل : دا د یمن پاچا ثمامة بن اثال دی، که هغه ته څه بد ورسوي نو د هغه قوم به پر مونږ باندې غله ودروي، او د لوږې څخه به مو مړه کړي، بیا قوم ثمامة ته وکتل ، او خپلې توري یې په تیکو کړلې، او ویې ویل : تا لره څه دي ای ثمامه ؟!

آیا د ماشومانو د ناپوهي کار دې کړی، او خپل اود پلرونو دین دې پریښی دی ؟!

هغه وویل : ما د ماشومانو د ناپوهي کار ندی کړی بلکې خورا ښه دین مې منلی دی، او هغه دا چې ما د محمد د دین متابعت کړی دی. بیا یې وویل : زما دې ددې کور په خاوند سوگند وي، کله چې زه یمامه ته ستون شم نو زه به تاسې ته د یمامه د غنمو یوه دانه او د هغې د نورو خیراتو او برکاتو څخه یو لږ څه به هم درونه رسیږي څو چې تاسې ټول د محمد «ص» متابعت ونکړئ .

ثمامه د قریشو په مخ کې خپله عمره څنګه چې حضرت پیغمبر «ص» ورته ښودلې وه تر سره کړه، او حلاله یې د بتانو د نامه په عوض د خدای «ج» په نامه او د هغه د رضا لپاره وکړه، بیا خپل هیواد ته ستون شو . کله چې ثمامه خپل هیواد ته ورسید، خپل قوم ته یې امر وکړ چې قریشو ته توره غله ونه لیږي . قوم د هغه خبره ومنله، او د مکې له خلکو څخه یې خپلې غلې او دانې بندې کړې.

په قریشو باندې د ثمامه د غلو او دانو بندول ورځ په ورځ د تکلیف سبب کیده ترڅو نه پورته لاړل، په خلکو کې لوږه خپره شوه او د هغوی تکلیفونه زیات شول تر دې چې د لوږې له امله د خپلو ځانو او د خپلو اولادو د مړینې او هلاکت په ویره کې شول.

په دغه وخت قریشو حضرت رسول الله «ص» ته ولیکل او داسې یې ورته وویل : زمونږ عهد تاسره دا دی چې ته صله رحمي کوې، او صله رحمي ته بلنه ورکوې، او دا ده تاله موږه صله رحمي پریکړه ، پلرونه دې په توره ووژل، او زامن دې له لوږې مړه کړل، دا دی ثمامة بن اثال پر مونږ باندې خپله غله ودروله او په دې سره یې ضرر راورساوه نو که ته لازمه گڼې هغه ته به ولیکې څو مونږ ته د ضرورت شیان ولیږي. حضرت پیغمبر «ص» ثمامه ته ولیکل څو قریشو ته خپله غله پرېږدي او بیا هغه قریشو ته غله پریښودله . ثمامة بن اثال څو چې ژوندی و د خپل دین اسلام سره وفا کوونکی او دخپل پیغمبر د عهد ساتونکی و کله چې رسول الله «ص» وفات شو او خپل خدای ته ورغی، په دې وخت کې عرب ډلې ډلې او یواځې یواځې د اسلام څخه په وتلو شول. مسیلمة الکذاب یعنې درواغجن مسیلمه په بنو حنیفه کې را پورته شو او خلک یې په درواغو سره د خپلې پیغمبرۍ منلو ته راوبلل ولې ثمامه د هغه په مخکې ودرید او خپل قوم ته یې وویل : ای بنو حنیفه له دغې تیارې خبرې څخه چې په کې هیڅ رڼا یې نشته ځان وساتئ، په خدای سوگند، دا یوه بد بختي ده چې خدای په هغه چا باندې راوستې ده چې هغه ومني، او ابتلا ده د هغه چا لپاره چې یې ونه مني. او بیا یې وویل : ای بنو حنیفه! په یوه وخت کې دوه پیغمبران نشته، او محمد «ص» د خدای رسول او د هغه څخه وروسته بل پیغمبر نشته او نه څوک د هغه سره په پیغمبرۍ کې شریک کیدی شي. بیا یې هغو ته دغه آیتونه ولوستل : حم . تنزیل الکتب ... «دا د خدای کلام چیرته! او د مسیلمه دا وینا چیرته چې داسې یې کوي . یاضفدع نقي ماتقنین ... بیا ثمامه د هغو کسانو سره ملگري شو چې هغوی په اسلام باندې پاتې وو او د مرتدینو په مقابل کې یې د خدای په لاره کې د کلمة الله د اعلا په غرض په جهاد لاس پورې کړ .

خدای دې د اسلام او مسلمانانو په نسبت ثمامة بن اثال ته ښه عوضونه ورکړي، او جنت دې چې متقیانو ته د هغه وعده شوې د هغه ځای کړي.

پاتي لري

د مسکو ښار بمي چاودنې د نړۍ په مطبوعاتو کې

پوهنیار دیپلوم انجنیر شریفه

دا وخت د مسکو د ښار د پوشکین په ډگر کې د روان اگست په ۸ نیټه د انفجار موضوع د نړۍ والو مطبوعاتو او خبري ذرایعو مخه ځانته راگرزولې ده د المان راډیو خبرنگار چې د پیښې له ځای نه د ړی سوه متره فاصله کې وو دا صحنه یې له نږدې نه لیدلې او ددې پیښې په رابطه یې داسې څرگندونه وکړه : د مسکو په وخت د غرمې وروسته لس دقیقې کم شپږ بجې د کرملین د ودانۍ په ۰.۵ ، ۱ کیلو متری کې د ځمکې لاندې ښاري ریلوي ترانسپورټ د دوو ستیشنونو تر منځ د تیریدنې په لاره د زیاتې گڼې گوڼې په منځ کې د ۵۰۰ گرامو معادل تروتیل بم هیښتناکه چاودنه وشوه ، توررولو گیو وهلې گڼ شمیر خلک په ډیره وارخطایي د وتلو د لارو نه په منډه وتل چې وریسې د مړو او سختو ټپیانو جسدونه را بهر شول ۸ تنه مړه او ۵۰ کسه چې دري ماشومان او یوه امیدواره ښځه هم پکې شامله وه سخت ټپیان شول . وروستیو اطلاعاتو د مړو شمیره ۱۲ او د ټپیانو شمیره ۷۰ تنو په شاوخوا، ده ښودلې چې د ۲۰ کسانو روغتیایي حالت ډیر بحراني دی.

په مسکو کې د پوتین د واکمنۍ او په چیچنیا باندې د پوځي عملیاتو د کالیزې په درشل کې دا پیښه او پدې اړوند چارواکو تدابیر یې له شکه د نړۍ د مطبوعاتو او سیاسي چارو د متخصصینو لپاره د پاملرنې وړ دي : د مسکو ښاروال لوژکوف له اوله نه د چیچنیا مجاهدین ددې کار مسؤل وگڼل . ناظرین عقیده څرگندوي چې همدا ډول شک او گمانونه د اکثریت روسانو د مسکوراوسیدونکو د نظر سره سمون لري. ولادیمیر پوتین په عاجله توگه د مربوطه ارگانونو د مسؤلینو غونډه راوبلله او ددې پیښې د تحقیق جریان یې په خپل کنترول کې واخیست. زوگانوف د روسیې د کمونست گوند د پارلماني ډلې مشر د پیښې په اړه وویل : دا کار د روسیې د دولتي واکمنۍ دهغه سیاست او تگ لارو نتیجه ده چې د لسو وروستیو کلونو په موده کې په کرملین باندې مسلط شوېدی. د فدرال المان کانسلر گیرهارد شروئیدر د پیښې په اړه جمهور رئیس پوتین او د روسیې ولس ته د تسلیت د پیغام په ترځ کې د تروریزم د ټولو اشکالو غندنه وکړه د المان د واکمن ائتلاف د سوسیال د موکرات گوند د پارلماني ډلې مشر گیرل ایرلر بیا پدې پیښه د خپگان او تسلیت د څرگندولو نه علاوه ددې پیښې په اړه وویل : « که څه هم ددې خبرې د اثبات لپاره شواهد نشته خو بیا هم کیدای شي دا چاودنه د چیچنیا د جگړې او قفقاز د واقعاتو سره تړلې وي نو ځکه داسې پیښې بو ځلي بیا دا واقعیت په گوته کوي چې د چیچنیا پرابلم د خبرو نه غیر بل الترناتیف یا لاره نلري. »

د شریعت غږ راډیو د چهارشنبې په ماښام خبري سرویس کې د مسکو د انفجار په اړه د خبري منابعو په حواله وویل : مسکو کې د انفجار په اړه دوه تنه قفقازیان چې یو یې چیچنی او بل یې داغستانی دی او ورسره یې یو تن سلاو نژاده هم نیولی دی د روسیې جمهور رئیس پوتین چې پخپله د پیښې د پلټنې جریانات کنترولوي ویلي دي چې دا عمل کیدای شي د تروریستانو کار وي او یا هم د کومې بلې جنایي ډلې او اشخاصو کاروي په داسې حالاتو کې د چیچنیا د خلکو تورن کول او د دوی په نسبت قومي تعصب او کرکه پارول بې ځایه عمل دی. د بي بي سي راډیو په مسکو کې د خپل خبریال د معلوماتو له مخې وویل : خلک وارخطا او د پیښې په وړاندې ځان بې وسه گڼي، که څه هم لوژکوف چیچنیایان ددې پیښې مسؤل گڼي خو پخپله پوتین د احتیاط د دریځ نه کار اخلي او کوم دوه کسه قفقازیان چې نیول شوي وو په مسکو کې د اسلامي تبلیغ او یا ددوي په قول د وهابیت د خپرولو په اړه د دعوت کار پر مخ بیایي خو د رسمي ذریعو په حواله ددې پیښې په اړه کوم معلومات په لاس کې نلري. د پیښې په اړه د پولیسو ، نظامي کنترول په هکله دا ارقام او معلومات د پاملرنې وړ دي : ۵۰۰ کسه پولیس د مسکو ښار د مترو (ځمکې لاندې ریلوي ښاري ترانسپورت) په ستیشنونو کې توظیف شوي.

اوس د روسیې په دننه او بهر کې د بشري حقونو ډلې دا ویره او تشویش لري چې د تیر کال د انفجارونو په څیر به دا پیښه هم د چیچنیایانو او قفقاز د وگړو په وړاندې د یوې پلمې په توگه استعمال شي. څوکه د تیر کال د انفجاراتو په بهانه په چیچنیا بې رحمانه حمله تر سره شوه اوس بیا ددې راپارول شوي غضب لپاره نور په چیچنیا کې د وړانګو او سوځولو لپاره هم کومه آبادي نده پاتې شوې نو ځکه د پوتین د اداري د حملې او تعرض لپاره بو خوا د ولس په ورکړې شوو آزادیو، مطبوعاتو او د اقتصاد او کاروبار په ازادیو او بل خوا د چیچنیا په کلیو او ولس باندې د بې رحمه او بې عاطفې جگړې د لا شدت ورکولو احتمال دی. د سیاسي چارو څارونکي دا خبره ښکاره کوي چې کیدی شي همداسې اضطراري او فوق العاده حالت د مسکو واکمنو ته ضرور وو تر څو خپل آینده پروگرامونه چې دولس د اعتراض سره مخامخ وو په زغرده تطبیق کړي نو ځکه ځنې تحلیل گران او د سیاسي چارو مامورین دا خبره یقیني گڼي.

تر کومه حده چې د آزاد چیچنستان د خلکو په قانوني او انتخاب شوي مشرتابه پورې اړه لري پدې رابطه د اسلان مسخدوف څرگندونه د پاملرنې وړ ده چې په واضحه تگو د چیچن مجاهدینو اشتراک په تروریستي فعالیتونو کې ردوي او د ترور د داسې طریقو غندنه کوي او بو ځل بیایې د مسکو واکمنې د سولې او خبرو له لارې د مسألو حل ته راوبلله . همدا ډول موقف د نړۍ په دې پیچلي احوال کې بې له شکه د الهي کلام د بې ساري عظیمې گنجینې د تل پاتې لارښوونې نه سرچینه اخلي.

نمایشگاه پیشرفتهاي اقتصادي افغانستان در ۳۲ ...

عنعنوي، تولیدات چرمي (بکس باب) اجناس مختلف حکاکي و زرگري، پارچه هاي بافته شده باد ست، اجناس کار آمد دیکوریشن، پوستین و پوستینچه، البسه باب چرمي و صنایع دستي انتیك، ظروف شیشه یي همراه با ظروف استالفي و سایر اجناس تولید شده با ست با سلیقه خاص به معرض نمایش قرار گرفت.

این مطلب را محترم حلیم «احمدزوي» رئیس نمایشگاه متذکره در مصاحبه با خبرنگار ما ابراز داشته افزودند : صنایع دستي که نقش آن در اقتصاد فامیلي و ملي کشور زیاد تر متبارز است در مارکیت هاي داخلي و خارجي به مشتریان عرضه میشود و اسعار قابل ملاحظه را وارد کشور مینماید.

وي افزود : اداره «مرکزي انکشاف صنایع دستي افغانستان منحیث مشوق تولید و تجارت صنایع دستي کشور انجام و سهمگیري عده، از مؤلدین صنایع دستي و تجار کشور را به عهده داشته و با سهمگیري فعال براي هموطنان خویش امید یك آینده درخشان و روشن را مژده میدهد .

معرفت آنرا آماده ساخته و طرق موثر را براي بازاریابي آن آماده ساخته و نظریات سودمند ناشي از این نمایشگاه ها را غرض تصمیم گیري به مراجع ذیربط آن ارسال نماید.

محترم رئیس نمایشگاه اضافه داشت : اداره نمایشگاه از بدو تأسیس تا حال توانسته است که نمایشگاه هاي متعددي را در سطح ملي تدویر نماید که اکثراً به مناسبت روز استرداد استقلال کشور در چمن حضوري موسوم به منطقه جشن مورد تماشاي هموطنان عزیز و مهمانان خارجي

دا هغه افتخاري کیونه دي چې په بهر کې د افغاني صنایعو د ننداري په مهال ددې اداري ګټل شوي

او اوس په کابل ننداریون کې له نورو افغاني صنایعو سره یو ځای خلکو ته ورښودل کیږي - عکاسي یوسف

این اداره در مجموع معرف پیشرفتهاي اقتصادي و اجتماعي کشور در سطح ملي و بین المللي بوده و به همکاري مراجع ذیربط وزارت تجارت در معرفي و بازار یابي کالا هاي صادراتي که یك بخش عمده آنرا تشکیل میدهد رول بارز داشته است.

به این شکل که مراجع مذکور سمپل و مودلهاي ابتکارات تولیدي خویش را غرض نمایش به اداره نمایشگاه سپرده تا از طریق تدویر نمایشگاه زمینه آشنایي و

قرار گرفته است.

باید متذکر شد که اشتراك نمایشگاه افغانستان در نمایشگاه هاي بین المللي از وجوهات قابل ذکري برخوردار است که مثالهاي عمده آن در نمایشگاه هاي بین المللي یوگوسلاویا ، لیبیا ، ایران، پاکستان، چین، آلمان، و امارات متحده عربي بوده که محصول آن بدست اوردن ۱۸ مدال و نشانهاي افتخاري بوده است منجلمه در سال ۱۹۸۸ در نمایشگاه بین المللي هند منعقده دهلي در میان ۵۱ کشور جهان و در سال ۱۹۹۹ در نمایشگاه بین المللي امارات متحده عربي در میان ۴۰۰ غرفه نمایشي ۳۳ کشور جهان مقامهاي اول را حایز و قادر به کسب مدال طلا و کپ افتخاري گردید.

نامبرده افزودند : در این نمایشگاه که اخیراً تحت رهنمایي اداره مرکز انکشاف صنایع دستي افغانستان تزئین شده است مؤلدین و تجار تولیدات خویش را حسب ذیل به نمایش گذاشته اند :

۱- حاجي قندي شاه مؤلد و تاجر اقلام گوناگون صنایع دستي به شمول قالین .

۲- الحاج محمد کبیر تاجر صنایع دستي و قالین .

۳- عبدالبصیر امید مؤلد البسه باب دست دوزي شده .

٤- خواجه شهاب الدین صدیقي مؤلد البسه و تولیدات مختلف چرمه دوزي و البسه افغاني.

٥- محمل سلیم رحیمي مؤلد و تاجر اقلام مختلف صنایع دستي.

٦- محمد ظفر حافظي مولد و تاجر تولیدات مختلف صنایع دستي.

۷- غلام سخي مؤلد تولیدات پوستي و چرمي و فروشنده اقلام مختلف صنایع دستي

۸- محمد رضا هاشمي مالك «زرگري انگشت طلایي» عرضه کننده تولیدات ساخته شده با دست اعم از حکاکي و زرگري .

۹- احمد شاه مؤلد و فروشنده دست دوزي هاي مختلف براي دیکوریشن.

۱۰- زرگري اجمل مؤلد و عرضه کننده زیورات اصلي و حکاکي ساخته شده با دست.

۱۱- عتیق الله مولد و عرضه کننده تولیدات گوناگون چرمي بویژه بکس باب .

همچنان قالین فروشي رؤف عرضه کننده قالین هاي مختلف افغاني در مارکیت هاي داخلي و خارجي و شرکت محترم کریپکا منحیث سازمانده تولید و تجارت قالین و گلیم افغاني در این نمایشگاه نقش برازنده داشتند.

محمد رفیق "عزت"

د بهرنیو چارو وزارت د ویندوی په ...

چې هغوی لا تر اوسه پوّې د اسامه په باب د خپلو ادعاګانو په باره کې هیڅ مدارک ندي وړاندې کړي پداسې حال کې چې د افغانستان اسلامي امارت په پر له پسې توګه له هغوی څخه په دې باب د سندونو او شواهدو د وړاندې کولو غوښتنه کړېده د واشنګټن اداره هغه وخت د شواهدو او سندونو په وړاندې کولو کې ناکامه شوه او د اسامه په نسبت یې ادعاګانې بې بنسټه او بوازې د یوې پلمې په توګه څرګندې شوې د کروز توغندیو په بریدونو یې لاس پوّې کړ هغه هم پداسې ملت باندې چې شل کلنې جګړې زیات مصیبتونه او کړاونه ورته پیدا کړیدي. آیا دا یو ستر جنایت ندی ایا دا یوه ستره تاریخي اشتباه نده.

له بده مرغه د امریکا خلک د افغانستان د اسلامي امارت په خلاف د واشنګټن د اداري د لنډ پارو سیاستونو قرباني شویدي. او غواړي چې خپل نړیوال شهرت د سپینې ماڼۍ د اداري د ګټو یو قرباني کړي د امریکا خلک حق لري پداسې شرایطو کې چې د جمهوري ریاست انتخابات د تر سره کیدو په حال کې دي له دغې اداري څخه وپوښتي چې ولې د کلنټن اداره د کرملین له قاتلانو سره یو ځای د افغانستان د خلکو د وژنې پلان او په دې هیواد کې د بشر د حقوقو د تر پښو لاندې کولو نقشه طرحه کوي .

د کلنټن اداره له داسې هیواد سره ملګرتیا کوي چې زموږ د هیواد د ملیونو تنو مسلمانانو د وینو په تویولو او د هیواد په ویجاړولو مجرم دی.

چونه ده چې د امریکا متحده ایالات د تروریزم په خلاف د په اصطلاح مبارزې د ادعاګانو په باب له روسانو سره د موافقو په لاسلیک کولو سره د روسانو په جرم کې شریک شویدي.

او له خجالت پرته په بل څه تر لاسه نه کړي. د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت یو ځل بیا د سپینې ماڼۍ اداره سلیم عقل او تعقل ته رابولي چې د خپلو ناکامو سیاستونو په تجربې سره د تدبیر لاره غوره کړي او له دې زیات د افغانستان د خلکو کړاونه او مصیبتونه زیات نه کړي هغه خلک چې د نړۍ له هیڅ یوه هیواد سره د دښمنۍ نیت نلري هغه خلک چې د جګړو په بهیر کې یې زیات کړاوونه او مصیبتونه زغملي دي او په خپل هیواد کې د سولې د ټینګښت او د جګړې د بندولو په لټه کې دي هغه خلک چې له سختې وچکالۍ سره لاس او ګریوان دي او له هغې نړۍ څخه د انساندوستانه مرستو هیله لري چې د انسان دوستۍ لاپې کوي. هغه څه چې د افغانستان په

اسلامي امارت پورې اړه پیدا کوي دا دي چې د افغانستان اسلامي امارت لکه څنګه چې په وار وار یې اعلام کړیدي یو ځل بیا ټینګار کوي چې د هیڅ یوه هیواده په کورنیو چارو کې د لاس وهنې نیت نلري.

اوس د امریکا د خلکو لپاره دیر ښه فرصت دی چې د انتخاباتي کمپاین په بهیر کې د افغانستان په باب د کلنټن د اداري له درواغو ډکې ادعاګانې وڅیړي چې په راتلونکې کې د سپینې ماڼۍ د اداره کوونکو اشتباه په نړیوال ډګر کې د امریکا د متحده ایالاتو د بدنامۍ او خجالت سبب نشي.

په ننګرهار کې ...

. ده وویل دغه دروازه د ملګرو ملتو د سازمان د مخدره موادو د کنټرول د اداري په مرسته د پنځه زره لکو افغانیو په ټول لګښت د ننګرهار ولایت د اوبو او برېښنا ریاست د ماهرو انجنیرانو او د فني کار کوونکو لخوا ترمیمیږي.

ده زیاته کړه د درونټې د برېښنا بند دري توربینونه لري چې تولیدي ظرفیت یې ۱۱ زره پنځه سوه کیلواته برېښنا ده ددغې دروازې په ترمیمولو سره به اوسني ستونزې او مشکلات لرې شي. تاکل شویده ددغې دروازې د ترمیمولو کار په پنځلسو ورځو کې بشپړ شي.

د هیواد د ټولو سوداګرو ...

کار او فعالیت پیل وکړ .

دغه ټکې د تومورې موسسې رئیس محترم ملا قلم الدین سنګرې زموږ له خبریال سره په یوه ځانګړې مرکه کې څرګند او زیاته یې کړه : د ممیزو او وچو میوو د صادراتو د پراختیا ریاست د ټولو سوداګرو لپاره یوه خدمتي ټولنه ده او له همدې لارې افغاني وچو میوو په ټوله نړۍ کې ځانګړې ارزښت او اهمیت پیدا کړی څرنګه چې افغاني میوې ټولې طبیعي ځانګړتیاوې لري او د قدرتي شعاوو او لمر په واسطه پخوالي او وچوالي پیدا کوي او په نورو هیوادو کې ټولې میوې د ماشین د ګرمې او سرې هوا په واسطه پخیږي او وچیږي نو له همدې وجې افغانستان د ټولې نړۍ په کچه د ممیزو لومړۍ درجه تولیدوونکی او صادروونکی او د وچو میوو دوهم نمبر تولیدوونکی او صادرونکی هیواد بلل شوی دی. ده د تومورې موسسې د کار او فعالیت اساسي موخې او مقصدونه په لاندې ډول وښودل :

الف : د افغاني ممیزو د اقتصادي صنایعو د وضعې ښه والی.

ب : د داخلي او بین المللي مارکیټونو لپاره د افغاني ممیزو د مناسب کمیت او کیفیت تأمینول .

ج : ددې خبرې په پام کې نیول چې د افغانستان ټول صادراتي ممیز باید د بهرنیو مارکیټونو له ځانګړتیاوو سره سم چې هلته د خرڅولو لپاره وړاندې کیږي باید مراعات شي.

د : د ممیزو د بهرنۍ سوداګرۍ ساحه کې د آسانتیاوو برابرول.

هـ : د بهرنیو پیرودونکو او افغاني صادروونکو تر منځ د شخړو په له منځه وړلو کې مرسته .

و : د ممیزو افغاني مؤلیدینو ، فابریکه لرونکو او صادرونکو ته د نوې ټکنالوژۍ، د بهرنیو بازارونو لپاره د مال د ځانګړتیاوو ، په باندینو مارکیټونو کې د خرڅولو د بیو او د ممیزو د بین المللي راکړې ورکړې د طرزالعمل په هکله معلومات ورکول.

د ابدال د کلي ...

د یو بل خبر له مخې هغه پل چې له دره سرخ نه د سرخ پارسا د ولسوالي تر سړوکې پورې پیښي وېجاړ او له منځه تللی وّ په دې وروستیو وختو کې د دریو ملیونو افغانیو په لګښت د دغې ولسوالي د خلکو په همکارۍ په پاخه او اساسي توګه بیا جوړ او د ټرانسپورټي وسایطو او د دغه ځای د اوسیدونکو د استفادې وړ وګرځید.

په تخار کې ...

اسلامي امارت تر واکمنۍ لاندې خوندي سیمو ته رسوي. د یو بل خبر له مخې د قوماندان حضرت او قوماندان کوچي افرادو د یو بل په سنګرونو برید کړي وبل کیږي چې دغوښتو له امله ملکي خلکو ته هم ځاني او مالي تاوانونه اوښتي دي. دغه نښتې په داسې حال کې پراختیا مومي چې د مخالفینو د مشرانو تر منځ اختلافونو سختوالي موندلی او قوماندانان هم له هغو شرایطو نه په استفادې سره چې ورته برابر شویدي د خلکو د مالونو او شتمنیو په لوټولو لاس پورې کوي.

د ګون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

قاضیان باید خپل قضایي حیثیت ...

القضات او د ستري محکمې رئیس د هیواد د قضایي موضوعګانو او مسالو په باب هر اړخیزې خبرې وکړې او د خپلې وینا په یوه برخه کې یې وویل : د قضا ضرورت او د هغې اهمیت ډیر زیات دی او نشو کولی په هیڅ حالت کې له هغې څخه لاس واخلو د هیواد عالمان باید تل دې کار ته تیاری ولري.

او قاضیان باید د خپلو دندو په تر سره کولو کې د هر راز ستونزو او مشکلاتو په وړاندې له صبر او تحمل څخه کار واخلي.

قضا ته دومره ضرورت دی چې د فقهي په کتابونو په تیره بیا په عالمګیریه فتاوا کې ویل شویدي په هغه صورت کې چې پاچا ظالم او جابر هم وي د عالمانو لخوا د قضا د دندې منل له ده څخه هم سم دي البته په دې شرط چې د قاضي لپاره په حقه قضا ممکنه وي او پاچا د قاضي په پریکړو کې ناروا تشبث ونه کړي او هم قاضي له پریکړې او د حُبنو شرعي حکمونو له نافذولو څخه منع نه کړي او په اسلامي امارت او په اوسني شرعي نظام کې د په حقه قضا زمینه په بشپړه توګه او په اعلی درجه مساعده ده او تصور هم نه کیږي چې په عادلانه قضایي اجراآتو کې ستونزه پیدا شي او یا مخنیوی وشي.

محترم قاضي القضات زیاته کړه په افغانستان کې اوسني اسلامي نظام زموږ د میړني او اتل ملت د ډیرو زیاتو قربانیو او سرښندنو محصول او ثمره ده او په ډیره درنده بیه تر لاسه شویدي . نو باید په هر حالت او په هره پریکړه کې ددې نظام ارزښت او بیه په پام کې ونیول شي څکه له دې پرته له یوې خوا شرعي مسؤلیت نه لرې کیږي او له بله پلوه د هغو طالبانو او مجاهدینو صبر او حوصله پای ته رسیږي چې د اسلامي نظام په خاطر د جهاد په سنګر کې دي او مایوسي او نا امیدي ورته پیدا کیږي .

او د دوی په جهادي چارو کې نیمګړتیا او خنډ پیدا کیږي چې په مسؤلیت کې یې ټول تقصیر کوونکي شامل دي.

محترم قاضي القضات وویل : د محکمو قاضیانو ته لازمه ده چې خپل قضایي حیثیت او هیبت وساتي او هم په هغو غونډو کې چې د دوی حال ته مناسب او لایق نه وي او هم له بې ځایه او بې معنی خبرو څخه ډډه وکړي. د قاضي خبرې باید حکیمانه او بلیغانه او د حال له غوښتنو سره سمې وي او له خلکو سره د هغوی د عقولو په اندازه خبرې وکړي او هم باید د سم نظر او رایې خاوند وي.

په کینیا کې ...

زیاتره دغه واګونونه چې اوبلن ګاز یې لیږدول سوزیدلي او دغه په نتیجه کې د اورګاډي پټلې ته نږدې لږ تر لږه دیرش کورونه سوزیدلي او په خاورو ایرو بدل شویدي.

د پیښې زیاتره قربانیان د اورګاډي د پټلې کار کوونکي او د پیښې د ځای د کورونو غړي ښودل شویدي.

۲۹ باب خبازي ...

شاروالی تعین گردید تا شکایات شهریان را در خبازیها مورد ارزیابی قرار دهند.

هیأت موظف از یکصدو چهل و پنج خبازی در شهر کابل کنترول به عمل آورده و در نتیجه بیست و نه باب خبازی را نسبت عدم رعایت حفظ الصحه برای مدت معین مسدود نمود. همچنان سه تن از خبازان شهر نسبت تکرار تخلف از سوی هیأت موظف سلب امتیاز گردیده اند.

خبر می افزاید : شهروندان شهر کابل پیوسته به شاروالی کابل شکایت نموده بودند که اکثراً از خبازان شهر در آرد ریگ، مخلوط می نمایند و نان را مطابق وزن تعین شده عرضه نمی دارند هیأت موظف شاروالی کابل ضمن بررسی نکات فوق رعایت حفظ الصحه در خبازیهای شهر را نیز مورد ارزیابی قرار داد و در زمینه توصیه جدی به خبازان ارائه داشت .

در جلال آباد مقداري ...

از سوی هیأت موظف ا: ویه جات متذکره غیر مفید و تاریخ سپری شده ثابت گردید.

ادویه جات متذکره دیروز در حالیکه نمایندگان ریاست های صحت عامه استخبارات گمرک، محکمه و قومانداني امنیه ولایت ننگرهار حاضر بودند حریق و از بین برده شد. این ادویه جات توسط شرکت رفیق لمتد اخیراً وارد کشور گردیده بود .

تلاشها براي نجات ...

اب بازان ناروی بعد ازین فعالیت نسبتاً موفقانه حوالی ظهر دو باره روی آب آمده تا در باره اقدامات بعدی با هم مشورت نمایند.

تحت البحری مذکور یك صدو هجده نفر سرنشین دارد .

مصالحه با ...

آورد . کابینه فلسطیني ها به تعقیب اجلاس هفته وار خود در شهر رام الله گفت صلح با رژیم صهیونیستي فقط در صورتي امکان پذیر خواهد بود که حقوق بین المللي مراعات و عملي شود کابینه فلسطیني افزود: رژیم صهیونیستي باید قطعنامه هاي سازمان ملل متحد را در رابطه به بازگشت آواره گان فلسطیني به مورد اجرا گذارد. فلسطیني ها در نظر دارند بیت المقدس شرقي را بحیث پایتخت دولت مستقل آینده فلسطین اعلام نمایند. بر اساس قطعنامه هاي سازمان ملل متحد رژیم صهیونیستي ملزم به تخلیه مناطقي است که در جنگ سال ۱۹٦۷ تصرف کرده و بیت المقدس شرقي نیز در آن شامل میباشد.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press